دانترنیټ دفارسی منابعو څخه
ژباړونکی ؛عزیزاحمد خوارمل

# زړه بګنونکی واقعیتونه ،ریالستیک شمیر دامریکا د اردو اودنظامی ځواکونو په هکله!

**دامریکا ددفاع دوزارت پنتاګون څیړنی اوپلټنی څرګنده کړی دی چې دامریکا داردو دغړوپه سلوکښی پرڅلوردیرش فیصده ښځو اوپه سلوکښې پرشپږ فیصده نارینو باندی په (۲۰۰۶)میلادی کال کې دخپلو لوړرتبه چارواکو او یا دخپل هم سطحی ملګرواوهمکارانودخوا ترجنسی تیریو لاندی راغلي دي .**



د آسوشیتدپرس دګزارش پربنسټ ، ددغه شمیرنی فیصدی ډېرلږ تر هغه واقعی اوریالستیک ارقامو اوشمیرنو څخه دی ، ځکه چې ډېری نظامیان دکاره څخه دګوښه کیدو دبیری اویا داچې جګپوړي چارواکی ددوي ادعا اوعرض نه منی له دی کبله وشکایت کولو او وګزارش ورکولوته نه

حاضریږی چې دموضوع په هکله جګپوړی چاروکی اولوړرتبه مقامات پری خبر کړی اودوي ته ګزارش ورکړی ،ددی پورتنی ګزارش پربنسټ په سلوکښې **(۲۳)** درویشت تنه ښځینه سربازانی او



په سلو کښې (**۱۵**)پنځه لس تنه نارینه سربازان دامریکا داردوغړي ، ددی پوښتنی په ځواب کې چې ایا جنسی تیری دځلور کالوپه اوږدکې ډېرسوی دی که څنګه ؟،په (دوزره شپږم ۲۰۰۶)میلادی کال کې مثبت ځوابونه یې ورکړي دي .

میرمن ان رایت متقاعده اوپرکورناسته ډګرواله چې (**۲۹**ـ نهه ویشت )کاله یې دامریکا په اردوکې نظامی دندی یې ترسره کړیدي،په دی اړه وایی :دامریکا اردودپه هر ډول شرایطوکې دحوصلی دفرهنګ اودود څخه ملاتړ کوی ،ځکه چې قضایی اوعدلی نظام ویولږ شمیر تیری کوونکو ،ګرم اوتورنو کسانو ته سزاورکوی ،دا وایی : دزده کړی ټولګی اودزده کړی ډول،ډول دوری ددی جنسی تیریودمخ نیوی دپاره اونور په لس ګونه تدابیرسته دی اوتل دغسی دزده کړی صنفونه جوړیږی او پرانستل کیږی ،مګر چندانی ګټه یې نه ده رامنځته کړی .

رایت چې په **۲۰۰۳** میلادی کال دیوی امریکایی دیپلوماته په توګه دخپلی دندی څخه دعراق سره دجګړی کولو په مناسبت ځان یې ګوښه کړه اودا اوس دسولی دتکړوغړوڅخه ګڼل کیږی دغه دسولی تکړه غړی زیاتوی :دغه موضوع یوه نوی موضوع نه ده ، داهسی احساسه ومه چې دپنتاګون دغه شمیرنه اوفیصدی ډېر لږ دهغوحقیقی اوریالسټیکوارقامو اوفیصدیوڅخه دی، اواړین دی چې چارواکی هرومرو واجیرانو اوپه کار ګمارل سوی نظامیانو ته داردود دندودمخته بیولودپاره په اردوکې داردوفرهنګ چې دښځوپرضد ددښمنی فرهنګ دی و ښځوته یې ور توضیح کړی .

دامریکا په اردوکې دجنسی تیریولمنه دونی اوپه دی اندازی سره پراخه سوی ده چې دامریکادارداوونظامی قواوی، دمځکنی ځواکونو،سمندری ځواکونو،هوایی ځواکونو اودتوپک لرونکوسمندری ځواکونودقرارګاواودجزتامونوپه ټولومرکزونوکښې ،اوپه ټوله نړی کښې کوم چیری چې هلته امریکایی نظامی ځواکونه پراته دی ددی قضایاواوپیښودګزارش ورکولودپاره یې تیلیفونی اړیکی رامنځته کړی اودزده کړی لنډمهاله کورسونه هم ددی قضایاواوپیښودمخ نیوی دپاره جوړسویدی .
باربارا کینګ دشپاړد دهوایی اډی دځواکونودجنسی تیریو دمخنیوی ددفتر رئیسه په دی هکله

يې وويله : هغه کسان چې دجنسی تیریو لاندی راځی مور.هغوي ومختلفوضروری منابعوته ورمښلووترڅووکولای سی چې بیرته وخپل عادی ژوندته راوګرځی . ددغو کړنلاری تطبیقیدل په **(۲۰۰۴ )** کال کې پیل سو ځکه چې په عراق اوکویت کې دامریکا په میشته ځواکونو کې جنسی تیر ی خورازیات سول اوددی کبله ډېری ځارنی یې رامنځته کړ دهوایی ځواکونوپه پوهنتون کې رسوایی ګانی اودښځینه کارکوونکوشکایتونه چې پردوي باندی جنسی تیری سوی وه ددی سبب وګرځیدی چې دوي دکاره څخه وشړی اوددی کړنلاری داجرااتوپه پیل سره یې تاثیر درلود. دامریکا ددفاع دوزارت پینتاګون دیوګزارش پربنسټ چې په مقایسوی ډول سره خپور سو،**(دوه زره نهه سوه اوه ویشت ۲۹۴۷)**دجنسی تیریو پیښي اوشکایتونه په **(۲۰۰۶)** میلادی کال کې او **(دوه زره دری سوه څلوراویا ۲۳۷۴)**دجنسی تیریو پیښي اوشکایتونه **په(۲۰۰۵)** میلادی کال کې رسمأ ثبت سوی دی ،اوپه تیرکال **(۲۰۰۷) میلادی کې (دوه زره شپږسوه اته اتیا۲۶۸۸)**دجنسی تیریو پیښي اوشکایتونه دښځیه اودنارینه نظامیانودعرض اوشکایت پربنسټ دامریکا د نظامی ځواکونولخواګزارش ورکولو سویدی،جګپوړی چارواکی وایی دارقامواوشمیرمقایسه په مختلفوکلونوکې دګزارش ورکولوطریقه اومیتود ته یې بدلون ورکړیدی اوپه دی اړه دیرپرابلمونه جوړ سوی اورامنځته سوی دی .

هغه کسان چې په (۲۰۰۵) میلادی کال کې ترجنسی تیری لاندی راغلی دی کولای سی چې ددی پیښی په هکله خپل مشکلات اوپرابلمونه په ډېر سری اوپټ ډول سره وجګپوړومقاماتوته وړاندی کړی ،جنسی تیری ثبتیړی مګروروسته پلټنه ،ګرویژنه اوپوښتنه نه عملی کیږی اوولوړوجګپوړی چارواکو اویا دقطعی ولمړی قوماندان اولمړی درجه مسؤولینو ته اطلاع نه ورکول کیږی ،په دغه ډول سره ترجنسی تیری لاندی راغلی نظامیان دډاکټراودرملنی اودرملو ،اودمشورواونوروخدماتوڅخه بیله کوم مصرفه هم برخمن کیږی .

ډاکټر کي ویټلي دامریکا په دفاع وزارت کې دجنسی تیریودمخنیوی ددفترمشر وایی : دغه کار مهم دی ،دوي کولاي سی چې ددرملنی ضروری مرستی ترلاسه کړی اومور. و دی ډول پیل ته ډېر اړتیا لروځکه زمور. کار دسربازانوڅخه کنترول اوڅارنه ده .
دامریکا ددفاع دوزارت دارقامواوشمیردګزارش پربنسټ تیرکال (یوسلوسویواتیا **۱۸۱)** تنه امریکایی نظامیان دخپلوهم مسلکواو ترلاس لاندی سربازاونواوافسرانوباندی تیری کړی دی ،دجنسی تیریو په دلیل په نظامی محکمی کې محاکمه سویدي ،همدارنګه (دوه سوه یو **۲۰۱)** تنه دغیر قضایی لاروڅخه په جزا باندی رسیدلی ،( دوه سوه اتلس **۲۱۸)**تنه دنظامی کاره څخه ګوښه او ایستل سویدي اوهمدارنګه قوماندانانو ونسوکولای چې د(اوه سوه اوه نهوی **۷۹۷ )**دجنسی تیریو دوسیی ، دپیښواومسائیلو دپوره دلائیلودنشته والی له کبله هغه وڅیړی اوترپلټنی لاندی ونسی .

دجنسی تیریو د(یوسلودوودیرشو **۱۳۲)** دوسیو دپیښوعوامل ونه پیژندل سول او دجنسی تیریو د(یولسویوولس **۱۱۱)**ددغه ډول دپیښودوسیی وغیر نظامی ارګانونو اوداراتوته دڅیړنی اوپلټنی دپاره لیږدل سویدي او دجنسی تیریو (پنځه سوه اویا **۵۷۰)** دوسیی

دتيركال دمنى ددريمى ربعى څخه تركار لاندى دي .
دتيرى مياشتى په پاى کې د(ويچيتال فالز) په نظامى اډه کې هوايى ډګروال ساموئل لوفتون په( نهو۹) کالو بند اود(۱۴) څوارلس زره ډالروپه نقدى جريمى اوداردوڅخه په وتلو باندى محکوم سو .
همدارنګه دوروستنى ارقامواوشميرنى پربنسټ (۴۰) څلويښت په سلوکښې ښځې نظاميانى دامريکا په نظامى ځواکونوکې تر جنسى تيريو لاندى راغلي دې .

دامريکا دکنګرى غړى جين هارمن ددى هيواد داستازودجرګى په کميټى پورى تړلى چاروکى هم وويل :چې په سلوکښې تر(يوڅلويښت ۴۱) ډېرتره ښځې چې دامريکا په نظامى ځواکونوکې کار کوى دخپلوهم مسلکواوقومانداناوامرينولخواترجنسى تيريو لاندى راغلي دي ،نه داچې دعراق په جګړه کې په ګوليوسره ويشتل سوى وي .

دامريکا ددفـــاع دوزارت دارقامـــو اوشميرپربنسټ په تيرکال کـــې پرښځينه نظاميانــى باندى د

جنسى تيريوپيښـــي دامريکا په نظامـــى ځـــواکـــــونوکـــې (۳۰۰۰) دره زره پيښي ثبت اوراجـــستر سوى دي .

دجګړى ضديوبل انټرنيټى خبرى آژانس ليکى ؛ دامريکاداردوښځينه نظاميانې دجنسى تيريواو دځان وژني قربانيانې دى .

همدارنګه يوى عربى انټرنيټى خبرى رسنى هم په اشارى سره وليکل : دامريکا په نظامى ځواکونوکې دښځينه نظاميانى دځان وژنى دډيريدوپه هکله په ټينګار سره وايى : ددى هيواد دنظامى ځواکونه ليرى پاته کيدل دجګړى ضدد مختلفوسازمانونودګوتنيونوڅخه،په همدى ډول سره دخپلواطلاعاتوو مخفى کاريو او وپټ ساتلو ته ادامه ورکوي .

د "تروث ديګ" خبرى آژانس په خپل يونوى ګزارش کې ديونامتواووتلى ليکوونکى په قلم ،دامريکا ددولت داطلاعاتى مخفى کاريو اوداطلاعاتوديټ ساتلوپه هکله ليکى : دامريکا دولت دوژل سوى ښځـــې نظاميانى دشميراودارقاموپه ارايه کولوکې چې ددى هيوادددفاع دوزارت لخوا دعراق اودافغانستان وهيوادونو ته ليږدول سوى دى ترڅوددى هيوادونوپه جګړه کې ګډون وکړى ، ليکى : ددى روان کال داپريل دمياشتى د (۲۸مى) اته ويشتمى نيټى څخه وروسته په يوه مقاله کې دامريکا په نظامى ځواکونوکې چې په عراق اوپه افغانستان کې ميشته دى ، پرامريکايى ښځينه سربازانو باندى دجنسى تيريو، اودځان وژنو په هکله مطلب خپورسو، اود دوو نوروښځينه سربازانو نومونه چې په ډول ډول پيښوکښې لکه دجنسى تيريو اودځان وژنو په پيښوکې خپل ژونديې دلاسه ورکړى وي ،په هغه ليست کې ثبت اووليکل سول کوم چې يوشمير سربازان اوافسران په خپله دوي ځانونه وژنى اوځان وژني کوي .

دامريکا دنظامى ځواکونودغه پرکورناست متقاعدډګروال په خپل دغه مقاله کې ليکى : د(۲۰۰۸) م کال داپريل دمياشتى په راوروسته کې دامريکا داردولخواګزارش ورکول سول

چې (۵)پنځه تن نوربشځې نظامیانی په عراق کې وژل سویدی چې ددریوتنووژنه په نوروپیښوکې رامنځته سویدی اودجګړی سره اړه نلری ،دی دغه پیښې داهسی توضیح کوی کوم چې ډېرتره ښځینه نظامیانی ورسره مخامخ دی اوهغه پیښې،جنسی تیري دی چې لویه برخه ددغه وژل سووځخه په مستقیمه توګه دتیریو کوونکو لخوا وژلې سوی اویا دروحی فشارونوله کبله وروسته له تیریو نه په ځان وژنو یې لاس پوری کړیدي .

رایت دامریکا دبهرنی چارودوزارت ددروجګپوړوچارواکودجملی ځخه هغه ځوک دی چې د(۲۰۰۳) م کال دمارس په میاشت کې په هغه مظاهری کې کوم چې پرعراق باندی دامریکا دیرغل پرضد جوړشوی وو برخه یې واخیست اوسمدلاسه یې ددولتی دندی نه خپله استعفاهم اعلان کړ . دی په دی هکله وایی دامریکا ددارډو دځواکونو ((نهنوی ۹۹)) تنه ښځې سربازانی،دانګلیس دهیواد(۶) تنه ښځې سربازانی،داکراین دهیواده یوه(۱) ښځه سربازه اودیرلس (۱۳) تنه نورامریکایی غیرنظامی ملکی ښځیه کارمندانی په عراق ،کویت اوبحرین کې دمنځه تللی دی ،داپه داهسی حال کې دی چې په سل هاو زره عراقی ښځې اوانجونې په مختلفوپیښوکښې په عراق کې د منځه تللی دي .

رایت په خپلو خبروکښې په ټینګارسره وایی : اکثرأ دغی امریکایی ښځې نظامیانی کله چې ترجنسی تیریو لاندی راځی دتیري کوونکولخوا وژلی کیږی اویا وروسته له هغه نه په خپله دوي ځان وژنی کوي . دی په دي اړه لیکی : په دغه (نهنوی ۹۹) تنه وژلې سوی ښځینه امریکایی نظامیانوکښې (۶۴ځلورشپېته ) تنه یې دداردوپه فعاله نظامی برخوکې یې کار کوله ،ددی جملی نه (نهه ۹) تنه یې دامریکی داردو دملی ګارد په جزوتامونوکښې په کارلیګا وي،او (اوه ۷) تنه یې داحتیاط په برخه کې یې کارکوله ،په همدی ډول (اوه ۷) تنه نوریې په سمندری توپک لرونکوځواکونوکښې ،او(نهه ۹) تنه نوریې په سمندری ځواکونوکښې او(دری ۳) تنه نوریې په هوایی ځواکونوکښې په کارلګیا وي .

ددفاع دوزارت دیو ګزارش پربنسټ ددغو(نهنوی ۹۹) تنوامریکایی ښځیو نظامیانوله جملی ځخه (یوځلویښت ۴۱) تنه یې په عراق کې په مختلفوپیښوکښې لکه په جنسی تیریوکښې اویادوي په خپله په ځان وژنوکښې دمنځه تللي دی چې دغه وژنی دجګړی داخ اوډب سره هیڅ ډول تړاو نلری . ددغه ګزارش پربنسټ ددغو (نهنوی ۹۹- تنودجملی ځخه (یوویشت ۲۱) تنه یې امریکایی افریقایی الاصل یا(افریقایی نژاده ) دي ،(شپاړلس ۱۶) تنه یې دلاتینی امریکی ځخه دي ،(دری ۳) تنه یې داسیا اواقیانوسیه دسیمی ځخه دي ،اویوه یې دامریکی اوسیدونکی یااصلی امریکایی نژاده ده ، دامریکا داردوهغه (ځلویښت ۴۰) تنه ښځې نظامیانی چې په افغانستان کې دمنځه تللی دي ،(پینځه ۵) تنه یې داردودځواکونوغړي ،(یوه !) یې داردو دملی ګارډ غړی ،(دوه ۲) تنه یې داردو داحتیاط غړي ، (دری ۳) تنه یې دهوایی ځواکونوغړي ،(دوه ۲) تنه یې دسمندری توپک لرونکوځواکونوغړي،(یوه ۱) یې دسمندری ځواکونودجملی ځخه ده .

اوهمدارنګه (یوه ۱) انګلیسی نظامی سربازه او (شپږ ۶) تنه نورغیر نظامی ملکی امریکایی ښځینه کارمندانې دمنځه تللی دی . ددی ګزارش په ادامه کې راغلی دی چې ددفاع وزارت په دی هکله یې ګزارش ورکړیدی چې ځلورتنه ښځې نظامیانې په مختلفوپیښوکښې دمنځه تللي دي اوهمدارنګه (یوه ۱) یې په خپله ځان وژنه کړی ده .


(ځلور ۴) تنه دښځینه نظامیانودجملی څخه چې رنګین پوستکي وي په افغانستان کې دمنځه تللی دي چې ددی جملی نه (دری ۳) تنه یې امریکایی افریقایی الاصل او (یوه ۱) یې دلاتینی امریکی څخه وو .

په همدی ډول ددغه ګزارش پربنسټ باندی (څوارلس ۱۴) تنه امریکایی ښځینه نظامیانی ، چې (دیرلس ۱۳) تنه یې داردوغړي او(یوه ۱) یې دسمندری ځواکونوڅخه وه ،او(یوه ۱) انګلیسه سربازه چې په عراق ،کویت اوافغانستان کې دندی یی تر سره کولی په ځان وژنويې لاس پوری کړی وي .

ددی ګزارش لیکوونکی دیو شمیر ښځینه نظامیانودنوم اخیستلواولیکلوپه هکله چې دنظامی قطعی دقوماندان په توګه دندی یې ترسره کړیدی اوددغوپیښوپه شتوالی کې دوي هم موجودی وي ،اولیکوونکی په دی نتیجه باندی رسیږی چې اکثره اولویه برخه ددی وژنو یاهغه کسان چې په ځان وژنويې لاس پوری کړی اویا په نوروپیښوکښې دمنځه تللي دی چې دجګړی داخ اوډب سره هیڅ ډول تړاواواړیکی نلری اودجنسی تیریو له کبله یې ځانونه دلاسه ورکړیدي .

اولیکوونکی په دی ډول سره ټینګار کوی چې دامریکا اردوپه ټولیز ډول سره زیارباسی چې ددی نظامیانودوژنواطلاعات اوګزارشونه خپاره نکړی ترڅودمختلفونړیوالوسازمانواوخصوصاًدجګړی ضدسازمانوترګوتنیونولاندی رانسی ،نووخپل اطلاعاتی مخفی کاریواوداطلاعاتووپټ ساتلوته ادامه ورکوي .

دامریکا دنظامی ځواکونوروانی پرابلمونه اوستونزی



دامریکا ددفاع وزارت (پینتاګون) دامریکایی نظامیانواوسربازانودروحی اوروانی اختلالاتو دڅیړنی دپاره چې دعراق اوافغانستان دجګړوڅخه رامنځته سوی دی (دری سوه ۳۰۰) میلیونه ډالر یې تخصص ورکړیدی . امریکایی ورځپانی توډی **USA Today** تیره اونی دسه شنبی په ورځ په یوګزارش کې ولیکل : ددفاع وزارت پریکړی یې کړیدی چې (دری سوه ۳۰۰) میلیونه ډالره دعراق اوافغانستان په جګړوکې دامریکایی موجودنظامیانواوسربازانودروحی اوروانی مطالعی اودڅیړنی دپاره دی وکارول سی .



دغه شمیر بودجه اوډالر ډېرترینه بودجه دی چې دامریکایی نظامیانواوسربازانود روغتیایی اودطبی څېړنودپاره مصرف اوکاره ول کیږی ،اوددی څېړنیز پلان مطابق (۱۱۷ یوسلواولس )څیرنیزی طرحی داسترس ،اودرارسیدلی روحې اوروانی پرابلمونودمنځه وړلواودمخنوی دپاره چې ددېروخطرناکوناروغیوڅخه دی ،چې یوشمیرامریکایی سربازان دعراق اودافغانستان دجګړی نه ورسره اخته سویدی ،تراجرااتولاندی نیول سویدی ،تردی بودجې مخکې په (۱۹۹۳) م کال کې (دوه سوه لس ۲۱۰)میلیونه ډالر دسینی دسرطان دڅیړنی دپاره تخصیص ورکول سوی وو چې دامریکا دنظامی ځواکونودروغتیایی اوطبی څیرنودپاره ډېره ستره بودجه ګڼل کیدله .


ویل کیږی چې تراوسه پوری نیمایی ددی (دری سوه ۳۰۰) میلیون ډالروڅخه وپینتاګون ته ورکول سویدي اونورپاته ډالر دسږکال دسپټامبرترمیاشتی پوری ورکول کیږی ،داپه داهسی حال کې دی چې دامریکاکنګری په همدی ډول سره (دوسوه دروایا ۲۷۳ ) میلیونه نور ډالریې دهغه ټپیانواوزخمیانودپاره یې تصویب کړی چې دجګړی په ډګرکې ټپیان اوزخمیان کیږی چې یوه برخه یې دجګړی څخه درامنځته سوی روحی اوراوانی ستونزواوپرابلمونوپه څیرنوپوره اړه لری .

د امریکا د((رنددڅیرنیزی موسیسۍ)) دڅیرنوپربنسټ چې په تیر اپریل کې خپوراونشر سود(درو سوو ۳۰۰)زروتنوامریکایی نظامیانوګډون دعراق اوافغانستان په جګړوکښې ،ددی دلیل پربنسټ چې په روحی ،روانی اختلالاتواخته سوی اودوي په روانی لحاظ ستومانه ښکاری ،اوهمدارنګه (دری سوه شل ۳۲۰ ) زره تنه نور یې چې ومغز ونوته یې تاوانونه ور رسیدلی دی له دی درکه رنځ وړي . اوپه اوس مهال کې امریکایی مختلف مطبوعات اورسنی پرنظامیانوباندی دجګړی دتاثیراتواوداغزمنتیا په هکله ګـــزارشونه یې خپاره کړیدي چې د دی کبله ددی نظامیانو

دصبراوحوصلی لړوالی اوتاوتریخوالی دنورواوسیدونکوسره دهمدی جملی څخه دی ،دعراق اودافغانستان دجګړی څخه د یوشمیرراستون سوی سرپازانواونظامیانوتاوانونه

اوپرابلمونه  په واڼونواوکوڅوکي دآخ اوډب اوجاراوجنګجال سبب ګرځيدلی دی اوډېری يې په الکولو اخته سويدی ،اودډېروالکولی مشروبات  دڅښلوسبب هم سويدي چې دموټردچلولواودډريوری په وخت کې  ټکرونه اوتصادفات يې رامنځته کړی اودډېرودوژنواو دمنځه تللوباعث هم ګرځيدلی دي  .

دامريکا دروغتيا وزارت :دعراق جګړی دامريکايی سربازانواولادونه او دکورنی غړی يې دځان وژنی وخواته  ورکش کړی دي :



دامريکا دروغتيا وزارت د يوی  خبرنی په خپريدلو سره يې اعلان و کړ ،دعراق اودافغانستان دجګړوڅخه  روحی اوروانی نښخی اونښانی  دامريکايی سربازانوپه وسيله ددوي پرکورنيوادکورنيوپرغړواو اولادونوباندی هم منفی اغيزه يې ښيندلی دی او ددوي داولادونو تمايل اومخه وځان وژونوته  ورځ ترورځه مخ پرډېريدو دي

دامريکا دروغتيا وزارت ددی  خبرنی پربنسټ و ليکل : دعراق اودافغانستان دجګړوڅخه روحی اوروانی نښخی اونښانی ، امريکايی سربازان يې شاته پری ايښی دی  همدا اوس مهال ددوي  کورنی هم دځان وژنی په مسئلی  باندی اخته سوی دي  . دالمحيط دخبری رسنی ديوګزارش  په حواله دعراق اودافغانستان دجګړوڅخه روحی اوروانی نخښی اونښانی اوس ددی سربازانو وکورنيوته  ورځپاره سوی اوپه نتيجه کښې دځان  وژنی پيښي اوس ورځ ترورځه  ددی نظاميانواوسربازانودکـــورنيودغړيو  په منځ کې خصوصاً په زامنواواولادونو کښې مخ په ډېريدو دی  .

داپه داهسی حال کې دی چې دامريکا  اردوترمخ  تردی  يې  څرګنده کړی اوپه ښکاره يې هم  ويلی وو، يوشمير سربازان دعراق اودافغانستان دجګړی څخه وروسته چې  بيرته هيواد ته راستون سويدی ،دراستون سوی سربازانودجملی څخه (يوسلوويشت (۱۲۱) تنه  يې په ۲۰۰۷ م کال کې ځان  وژنی يې کړيدی  اودغه ارقام اوشمير د۲۰۰۶ م کال په پرتله( شل ۲۰ )فيصده په سلوکښې زياتوالی  ښيی . په همدی ډول ددی ګزارش پربنسټ  يوشمير نورنظاميان اوسربازان چې غوښتل ځانونه ووژنی او وژل سوی  ندي  ژوندی پاته سوی

دي شميريې و (دوه زره سلو ۲۱۰۰) تنوته رسيږی ،په داهسی حال کې چې دغه دارقاموشمير (شپږ۶) ځله لوړ تللی چې دهغه وخت دشمير سره برابراويوشان دی کوم چې دعراق دنيونی اوترواک لاندی دراوستلودپيل ځخه په ۲۰۰۳)م کال کې وجوددرلودل .

درواني ډاکټرانودډلی مشرډګروال« السبيت کامرون رچی »په دی اړه يې ويلی : دقطعاتواودجزوتامونودقوماندانودزيار اوتلاش سربيره دځان وژنی پيښي ډېر سويدی ،اودی په ډېر ټينګار سره وايی چې په منځنی ډول سره په دريوتيروکالنوکښې دځان وژنی پيښي تردی اندازی رسيدلی دی چې دوروستنی پيړی په ربع کې په امريکايی نظاميانواوسربازانوکې بی ساری دی .

همدارنګه دامريکا ددفاع وزارت هم اعلان وکړ چې د (۲۰۰۸) م کال دپيل ځخه تردا اوسه پوری دځان وژنی دشمير ګراف لوړتللی دی اودغه ځان وژنی دتيروکالنوپه پرتله خورا ډېر دي .

دواشينګتن ځخه داسوشيتدپرس دګزارس په حواله دامريکا ددفاع وزارت اعلان وکړ چې دروان کال دلمړی ورځی ځخه تر ننه پوری ،دامريکا داردو يوشميرنظاميانوپه ځان وژونويې لاس پوری کړی دی چې شمير يې (دووشپته ۶۲) تنوته رسيږی اوسربيره پردی شمير باندی د (يوديرشو ۳۱ ) نورو نظاميانو وژنی دروان کال دلمړيوورخوڅخه بيا تر ننه پوری رامنځته سويدی اوپه دی هکله پلټنی او ځيړنی ترلاس لاندی دی چې ايا دغه يوديرش نظاميانوهم ځان وژنی يې کړی دی اويا په نوروپيښوکې وژل سويدی .دامريکا جګپوړی نظامی چاوراکی تيره اونی دپنجشنبی په ورځ اعلان وکړ په هغه صورت کې ،که ددغويوديرش تنونظاميانو وژنی ، په ربښتيا سره ځان وژنی وبلل سی نوپه (۲۰۰۸) م کال کې دامريکايی نظاميانودځان وژنی شمير د (۲۰۰۷) م کال دځان وژنی تير شمير زياتوالی بنيی ،په (۲۰۰۷) م کال کې دامريکا داردونظاميانو(يوسلوپنځلس ۱۱۵ ) تنه يې ځان وژنی يې کړيدی ،اودامريکا ددفاع دوزارت چارواکی اومسؤولين وايی ددی پرابلم دمخنيوی اودحل دپاره يې زيار اوتلاښ يې دوه چنده کړيدی . /

07092008

*www.ayenda.org*